ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.1 2024

# د امیر رزاق امیر په شاعرۍ کښې طنز و مزاح

Anwaar ullah[1]

Haider Hussain[2]

Sartaj Alam[3]

## Absract

Amir razaq ameer is a well known pashto poet who write verse and prose both with his delighted style.His poetry have many aspects of life in it But people commonly like his satire and humour.In which Amir razzaq amir focus on the evil acts of the socity.He give advise with the help of his satiric and humourous poetry to the socity in a manner that people accept it happily and willingly.Amir razzaq ameer chose the path of satire and humour to teach them their faults.And aware them of its distruction.Which shows that Amir razzaq ameer was a skill full poet of modren pashto poetry.

امیر رزاق امیر چې د ادب په دنیا کښې څه وخت وړاندې په امیر رزاق ساحل هم یاد پاتې شوے خپل نوم ئې امیر رزاق ؤ او امیر ئې د تخلص په طور پکارولو۔ د پښتو شعروادب دا نوموړے د ملاکنډ ایجنسۍ په خاص درګۍ کلي کښې په یوویشتم اپریل ۱۹۵۵ ء کښې د خداے بخښلي عبدالوهاب اخونزاده کره پیدا شوے ؤ او د مړښي نیټه ئې اتم جون کال ۲۰۲۱ء ده ۔ موصوف د پښتو ژبې یو ښۀ شاعر ادیب نقاد او افسانه نګار ؤ خو ولې په عام اولس کښې ددۀ وجه شهرت شاعري وه ۔ دۀ په پښتو ژبه کښې د فکر وفن په حواله ډېره غوره او په معیار پوره شاعري کړې ده ۔ خپل احساسات ئې ټولنې ته په مختلفو طریقو وړاندې کړي دي سنجیده شاعري ئې هم کړې ده خو ولې په عام اولس کښې ئې پېژندګلو او د شهرت وجه د طنزومزاح د شاعرۍ ترمخه ده په مزاحیه انداز کښې ئې د ټولنې په کنډو کړمو او ناهموارو داسې طنز کړے دے چې لوستونکي اوریدونکي ترې د خوند اخستو سره سره یو خاص مقصد هم تر لاسه کوي۔ د طنزوامزاح په اړه ئې بلها اوږدۀ اوږدۀ نظمونه تخلیق کړي دي په دغه اساس مونږ غواړو چې په دې مقاله کښې ددۀ د طنزومزاح د شاعرۍ تحقیقي او تنقیدي جائزه وړاندې کړو۔

---

[1] Anwaar Ullah M.phil Scholar pukhto academy University of Peshawar
[2] Haider Hussain Ph.d Scholar pukhto academy University of Peshawar
[3] Sartaj Alam M.phil Scholar pukhto department University of Peshawar

حرف و سخن
HARF-O-SUKHAN
ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.1 2024

## دَ طنز و مزاح معنیٰ او مفهوم:

طنز و مزاح اکثر دَ یو کلمې په طور استعمالیږي خو په حقیقت کښې دا دوه جدا جدا کلمې دي۔ چې جدا جدا معنې لري مزاح څوک خندولو ته وائي او طنز چا پورې خندلو ته وائي
-

په انسائیکلو پیډیا برټانیکا کښې دَ طنز تعریف داسې شوے دے:

> **“Satire in its literary aspect. Maybe defined as the expression in adult terms of the sense of the sense of amusement or unseemly provided that humour is a distinctly recognizable element. And that the utterance is invested with literary form. Without humour, satire is invective, without literary from, it is mere clownish jeering. The first exercise of satire no doubt consisted in giving a personal defects, to dignify satire by rendering it the instrument of morality or the associate of poetry was a development implying considerable advance in the literary art”.**[i]

ژباړه:ادبي لحاظ سره دَ طنز تعریف څه په دې ډول دے۔ دَ خوشحالۍ یا دَ کرکې اظهار کوم چې دَ څه بدرنګۍ یا بدصورتۍ له وجې راوچتیږي۔ خو یو شرط پکښې شته چې مزاح دَ طنز نه یو جدا او په بل ډول عنصر دے او په کومه ژبه کښې چې دَدې اظهار کیږي دَ هغې رنګ ادبي وي۔ دَ مزاح نه بغیر طنز په مثال دَ کنځلو وي او دَ ادبي شکل نه بغیر طنز په معنیٰ دَ ټوقو مسخرو وي۔ دَ طنز وړومبے شکل په ذاتي خامو مشتمل ؤ خو کله چې په طنز کښې دَ اخلاقیاتو عنصر شامل شو بیا دَ شعر و شاعرۍ سره اوتړلے شو نو دَ ادب یوه اعلیٰ نمونه شوه۔

دَ طنز په حواله ښاغلے حکیم الله په خپله مقاله کښې لیکي چې:

> "طنز چې په انګریزۍ ژبه کښې ورته (Satire) وائي هغه تحریر وي کوم کښې چې طنز نګار دَ ټوقو په پرده کښې په یو فرد، ډلې، قوم، نظرئې یا اداره باندې په ډېره تندۍ او بې رحمۍ سره تنقید کوي او دَ هغه څیز ګڼ اړخونه رابرسېره کړي۔ چې دَ طنز نخښه وي"۔ [ii]

په انسائیکلو پیډیا برېټانیکا کښې دَ مزاح تعریف څه په دې ډول دے:

> “Humour may be defined as the sense within us which sets up a kindly contemplation of the incongruities of life, and the expression of that sense in art. The word thus means either something within ourselves. As when we speak of a “man” of humour or something objective, as in speaking of a comedy as “fully of humour”.[iii]

ژباړه: مزاح هغه انساني حس دے چې دَ ژوند دَ بې ډولۍ په وجه انسان په یو همدردانه

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.1 2024

سوچ مجبوره کړي دَ کومې اظهار چې هغۀ دَ ادب په شکل کښې کوي۔ دَ لفظ مزاح مطلب باطيني او خارجي دواړه کېدے شي لکه چې مونږه وايو فلانے سړے مزاح کولو يا خندا کولو والا دے۔ يا دا چې فلانۍ طربيه دَ مزاح نه ډکه ده۔

ښاغلے مشتاق مجروح دَ طنز و مزاح معنیٰ او مفهوم داسې بيانوي:

"طنز ته په انګرېزۍ ژبه کښې "Satire" او مزاح ته "Humour" وئيلے شي۔ تر اوسه پورې چې عالمانو دَ طنز و مزاح په حقله څۀ وئيلي دي دَ هغې خلاصه دا ده چې طنز و مزاح دَ يو تصوير دوه اړخونه دي۔ طنز نګار دَ معاشرې لوړې ژورې او خامۍ دَ خپل طنز نخښه جوړوي۔ يعنې دَ هغې نه دَ نفرت اظهار کوي او په داسې طريقه ئې پېش کوي چې لوستونکي ترې خوند هم اخلي او دَ هغې اصلاح هم کېږي"۔[iv]

فضل مير خټک دَ طنز و مزاح معنیٰ او تعريف داسې کوي:

"دَ طنز معنیٰ ده په يو کس يا يو شي پورې ټوقې کول۔ ملنډې کول، تنګول، خو په ادب کښې دَ ژوند داسې اړخونه چې کرکه او نفرت ترې ولاړېږي يا په معاشره کښې ورته په ښه نظر نۀ شي کتے په داسې اړخونو او کردارونو ظريفانه تنقيد کول طنز دے۔ دَ ادبي طنز دپاره ضروري ده چې ادبي شکل کښې به وي او دَ ادب يو صنف کښې به وي۔ ګنې وشتے به ترې جوړ شي۔ دَ طنز سره لږه مالګه مصالحه دَ مزاح هم پکار ده چې تريخ والے قابو کوي۔ خبره عناد او تعصب ته نۀ وي رسول پکار ځکه دَ جذباتو واګې دَ عقل په لاس کښې ورکول پکار دي"۔[v]

مخکښې بيا دَ مزاح وضاحت هم کوي او په طنز او مزاح کښې فرق هم په ګوته کوي:

"کله چې په ظرافت کښې صرف خوش طبعي وي نو دا مزاح دے دَ ستيفن لي کاک په نزد مزاح دَ ژوند دَ لوړو ژورو دَ هغه همدردانه شعور نوم دے دَ کوم چې فن کارانه اظهار وشي طنز او په مزاح کښې دا فرق دے چې طنز دَ نفرت او خفګان نه پيدا کېږي او مزاح دَ مينې محبت او همدردۍ نه۔ طنز په عناد، پېغور او په سپکاوي متنبح کېږي خو مزاح کښې دا شے نۀ وي۔ صرف خوند او خوش طبعي په وجه وي۔ مزاح ته دَ طنز هېڅ ضرورت نۀ وي خو طنز همېشه دَ مزاح محتاجه وي۔ ځکه چې طنز کښې چې مزاح نۀ وي نو صرف کنځل وي"۔[vi]

ډاکټر رفيع الدين هاشمي دَ طنز و مزاح وضاحت داسې کوي:

"ارو ادب میں طنز و مزاح کو عموماً یکسان معنوں میں لیا اور ایک ساتھ استعمال کیا جاتا ہے۔ حالانکہ طنز اور مزاح میں فرق ہے۔ دونوں کی اپنی

اپنی حدود ہیں۔ لیکن اس کے باوجود اکثر ایک دوسرے کے متوازی بھی چل رہے ہوتے ہیں۔ اور بعض اوقات تو اس کی سرحد بھی ایک دوسرے سے ملی ہوتی ہیں۔ کہ ان کو الگ کرنا دشوار ہوجاتا ہے۔ طنز سے مراد طنعہ ، ٹھٹھہ، تمسخر یا رمز کے ساتھ بات کرنا ہے۔ جب کہ مزاح سے خوش طبی ، مزاق یا ظرافت، مراد لیا جاتا ہے۔ عام طور پر "طنز" اور "مزاح" کے الفاظ کو ملا کر بطور ایک مرکب کے استعمال کیا جاتا ہے۔ مگر یہ دو مختلف المعانی الفاظ ہیں۔ مزاح کی لفظی معنی ہنسی مزاق، جب کہ طنز کے معنی طنعہ یا چھیڑ کے ہیں"۔ [viii]

مغربي ليکوال رونالډکس دَ طنز و مزاح دَ توپير په اړه دا وېنا ده چې مزاح نګار دَ هوسۍ سره زغلي رازغلي او طنز نګار دَ هوسۍ ښکار دَ ښکاري سپو په مدد سره کوي۔

دَدې ورکړے شوو حوالو نه دا معلومېږي چې که هر څو طنز و مزاح دَ يوې کلمې په طور استعمالېږي خو په حقيقت کښې دا دوه جدا جدا کلمې دي چې بېلې بېلې معنىٰ لري۔ مزاح څوک خندولو ته وائي او طنز چا پورې خندلو ته وائي۔ اوس که يو ليکوال دَ يو کس يوې معاشرې يا په يوې ادارې طنز و تنقيد کوي او دَ دوي دَ ناهموارو او بدرنګو غندنه او طنز کوي نو دا طنز به دَ مزاح په خوږو لړلے شوے کوي چې ګنې يو طرفته به ترې اورېدونکي خوند هم اخلي او بل طرفته به دَدغه کس، ادارې يا معاشرې اصلاح هم کېږي په پښتو ادب کښې هم لکه دَ نورو ژبو په شان دَ طنز و مزاح کتابونه چاپ شوي دي۔ يقيناً چې په تعداد کښې کم دي خو بيا هم زمونږ دَ پښتو ادب بار پرې دروند دے او مونږ ئې دَدې وئيلو جوګه کړي يو چې په پښتو ادب کښې هم دَ طنز و مزاح اثار چاپ دي۔

تر دې دمه چې په پښتو ادب کښې دَ طنز و مزاح په حواله په نظم او نثر کښې کوم کتابونه چاپ شوي دي دَ هغوي نومونه څه په دا ډول دي:

1. هغه دغه — منشي احمد جان
2. ګل زيړې، خوارۀ تراخۀ — عبدالله جان مغموم
3. تورے — محمد همايون هما
4. شلغاتے — پير ګوهر
5. يارانه په شلتالو — مشتاج مجروح

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.1 2024

6. لشي[4] ډاکټر ایم اعظم اعظم
7. ماته په خندا محب الله شوق
8. دَ ناوې پور ظفر خان ظفر
9. زړند چرګ، ژمے او برستن حسین امیر فرهاد
10. پرتوګ په چنار اقبال جان
11. مسکا اسماعیل ګوهر
12. چپ شه چاته مۀ وایه محمد جاوید درد
13. دړې انار دانې سعد الله جان برق
14. دَ وادۀ وریژې اعتبار ګل
15. سنډا ته سرینده او ګډو کښې اوبۀ
فرید الله شاه حساس
16. ساده باده وېنا ماسټر شبېر افضل
17. ګوګوشتو راحت سیال
18. خود غرض عبدالرحیم روغانے
19. په ښېر سنډا جمیل یوسفزے
20. په پښتو ادب کښې دَ طنز و مزاح تنقیدي جائزه دَ پي ایچ ډي تحقیقي مقاله دَ حکیم الله جان

دَدې نه علاوه په مختلفو اخبارونو او مجلو کښې هم وخت په وخت ډېر ښه ښه مضمونونه او نور لیکونه دَ طنز و مزاح په اړه دَ ګڼو لیکونکو چاپ شوي دي۔
دَ پښتو ادب دَ طنز و مزاح په جدیدو شاعرانو کښې اقبال جان، سلطان غمګین، شماد انګار،ساجد افغان، اکبر منو، ظفر خان ظفر وغیره شامل دي۔ چې پکښې یوه نامه دَ امیر رزاق امیر هم ده چې دَ سنجیده شاعرۍ سره سره ئې دَ طنز و مزاح په مېدان کښې هم خپله طبع ازمائي کړې ده۔

## دَ امیر رزاق امیر په کلام کښې دَ طنز و مزاح توکي:

امیر رزاق امیر که سنجیده شاعري کړې ده هم نو ځانله یو مقام ئې پکښې پیدا کړے

[4] دا څه تکلونه او څه ډرامې دي خو طنز و مزاح پکښې شه کافي ده

حرف و سخن HARF-O-SUKHAN
ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.1 2024

دےد. او که دَ طنز و مزاح شاعري ئې کړې ده نو هم دَ اوربېدونکو زړونه ئې ګټلي دي. په خواصو کښې يعنې دَ ادب په خاوندانو کښې هغۀ دَ هر مکتب فکر خاوند ګڼلے شي. خو په عامو خلقو کښې اکثريت دَ دوي دَ شاعرۍ مقبوليت دَ طنز و مزاح تر مخه پېدا شوے دے. دَ هغې غټه وجه دا ده چې امير رزاق امير طنز و مزاح په داسې ساده او عام فهمه انداز کښې بيان کړے دے چې عامو خلقو ته رسا دَ خپل فکر او زړۀ ترجماني ښکاري.

امير رزاق امير دَ طنز و مزاح شاعري خالص دَ پښتو ژبې سوچه توري دي. هغۀ دَ طنز و مزاح شاعري کړې خو يواځې ئې دَ خلقو په مخونو دَ خندا دپاره نۀ ده کړې بلکې په هغې کښې به يو خاص حقيقت هم وي. چې په ريښتوني او صفا شکل کښې دَ معاشرې په ناهموارو دَ طنز و مزاح په لينده کښې دَ تنقيد غشي وروي. هغۀ دَ پښتو په طنز و مزاح شاعرۍ کښې ځانله يو جدا مقام پېدا کړے ؤ.

که دَ امير رزاق امير شاعري مغربي ليکوالان اولولي نو باور دے چې هغوي هم ګوته په خُلۀ پاتې شي. هغۀ په طنز و مزاح کښې دَ معاشرې دَ ناهموارو او نيمګړتياګانو عکاسي په دومره حقيقي لفظونو کښې کړې ده چې هېڅ مبالغه نۀ لري. امير رزاق امير طنز و مزاح دَ سنجيده شاعرۍ سره پيوند کړې ده. او يقيناً چې دا ډېر هنري استعداد غواړي.

په دې باره کښې تاج محمد خاموش خپل تاثرات داسې بيانوي:

"طنز و مزاح ئې دَ سنجيده شاعرۍ سره پيوند کړې ده. دا کار بل چا نۀ دے کړے او نۀ شايد وکړے شي. ځکه چې دا Risk څوک هم نۀ شي اغستے، خلق دَ **Free market economy** سره ډېر اشنا شوي دي. امير صيب هم په دې پوهېدو خو هغۀ دا ايمان هم لرلو چې دَدۀ دغه تجربه ناکامه کېدلې نۀ شي او وخت ثابته هم کړه". [viii]

بيا مخکښې وائي:

"دَ طنز و مزاح يو بې تاجه بادشاه ؤ. طنز بذات خود ډېر سخت عمل او مزاح څه وختي خندا وي. خو دَ امير صيب کمال دا دے چې دا دواړه ئې دَ فکر په نازک تار داسې تړلي دي چې ښخې توازن ئې پکښې ساتلے دے". [ix]

په پښتو ادب کښې ډېره دَ طنز و مزاح شاعري شوې ده خو امير رزاق امير پکښې يو منفرد ليکونکے ښکاري. دَ دوي دَ طنز و مزاح دَ شاعرۍ نمونې دَ دوي په هر کتاب کښې

شاملې دي۔ ګنې دَدې نه ځانله يو کتاب جوړېدے شو او دا به دَ شاعرانو په صف کښې دَدهٔ دوېم کمال وي۔

دَ امير رزاق اميرِ دَ طنز و مزاح شاعرۍ په باره کښې رحمت شاه سائيل خپل تاثرات داسې بيانوي:

"دهٔ دَ طنز و مزاح شاعري کړې ده۔ هغه چې پښتنو کښې هر څومره دَ طنز و مزاح ويونکي شته او دَ ډېر قدر وړ دي۔ لوستونکو ته به په دغه شاعرۍ کښې هم امير رزاق ساحل يو منفرد ليکونکے ښکاره شي۔ په دے کتاب کښې دَدغه قسمه چې کوم نظمونه دي دا ده دغه شاعرۍ نه دَ نمونې په طور شامل کړي دي ګنې دَدغې شاعرۍ نه يو ځانله کتاب جوړيدے شي۔ او دا به دَ شاعرانو په صف کښې دَدهٔ دوېم کمال وي۔ دَدهٔ دغه قسم شاعري چې سړے اوګوري نو صرف او صرف دَ طنز و مزاح شاعر ښکاره شي"۔[x]

هسې خو شاعران ټول ښه شاعران وي خو دَ طنز و مزاح دَ سلطنت ملکه هر چاته په نصيب نهٔ وي او دا دَ خوش قسمتۍ خبره ده چې امير رزاق امير ته دَ سنجيده شاعرۍ سره سره دَ طنز و مزاح ملکه هم نصيب شوې وه۔

بخت روان عمر خېل دَ امير رزاق امير په طنز و مزاح خپل تاثرات داسې بيانوي:

"دَ غزل په نازک او حساس مزاج هم پوهه ؤ او دَ نظم په ارزښتانکو موضوعاتو هم ، نظمونه ئې دَ طنز و مزاح او معاشرتي ستونځو په اړه دَ اولسي ژبې له کبله نهٔ يواځې په سنجيده خلقو کښې بلکې په اولسي کچه هم ډېر مقبوليت او قبوليت لري۔ امير صيب دَ يو زمانې راهسې خپل قلم هم په دغه ډول په منظومو اصنافو کښې کارولے دے"۔[xi]

امير رزاق امير په طنز و مزاح دَ غني خان لېونې فلسفې دَ ليک نه متاثره ؤ په دغه حقله هغوي په خپله وائي چې:

"دَ خپل ابتدائي تعليم په دوران کښې په کورس کښې دَ غني خان لېونې فلسفې دَ ليک نه متاثره شوے يم او څه لږ غوندې ګډه وډه طنز و مزاح مې هم په دغه متعلقه تاثر کښې کړې ده"۔[xii]

اوس دَ امير رزاق امير دَ طنز و مزاح څو نمونې بطور مثال وړاندې کولې شي۔ دَ امير رزاق امير دَ طنز و مزاح شاعري ټوله دَ خوند او حقيقت نه ډکه ده خو په خاصه توګه دَ هغوي "ښارِ ناپرسان" نظم ډېر مشهور دے۔ بلکې دومره مشهور شوے دے چې دَ امروزه ژوند عامه اصطلاح جوړه شوې ده۔ لکه چې اوس خلق وائي چې دا څه "ښارِ ناپرسان خو نهٔ دے۔

دَ طنز و مزاح په حواله دا هغه نظم دے چې دَ امير رزاق امير په دوو کتابونو کښې دَدې

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.1 2024

حصه چاپ ده او دَ هغوي دَ شاعرۍ دریم کتاب "کریکه" کوم چې ناچاپه دے۔ په هغې کښې هم دَدې نظم حصه شامله ده۔ دَ مرګي په وخت امیر رزاق امیر په خپلو خبرو کښې ددې نظم په حواله دا هم زیاته کړه چې زما په شاعرۍ کښې دا هغه شاهکار نظم دے چې په ژوندوني دَ پوره کېدو نۀ دے۔ بلکې زما په مرګ به اختتام ته رسي۔ په دې نظم کښې امیر رزاق امیر دَ خوب په ژبه کښې زمونږ دَ ملک دَ غېر منظمه نظام منظر کشي بیان کړې ده۔ دا یو ډېر شاهکار او افاقي نظم دے دلته دَ هر یو کتاب نه دَدې نظم یو دوه بنده بطور مثال وړاندې کولې شي۔هغه نظم څه داسې دے چې:

"نامـــه چـــا پـــه اودو ایښـــې وه دې ســـخا پښـــتان تـــه
بېګـــا پـــه خـــوب کښـــې تلـــے وومـــه ښـــار ناپرســـان تـــه

دَ غـــل باچـــا نظـــام ؤ او دَ غلـــو ځانلـــه وزیـــر ؤ
دَ غلـــو ځانلـــه وزیـــر ؤ او دَ ملـــو ځـــان لـــه وزیـــر ؤ
دَ لوښـــو دَ لرګـــو او دَ اوبـــو ځانلـــه وزیـــر ؤ
دَ ماشـــو دَ مچـــانو دَ مېـــږو ځانلـــه وزیـــر ؤ
دَ ســـپو ځانلـــه وزیـــر ؤ او دَ خـــرو ځانلـــه وزیـــر ؤ

خو!!

په سترګه دَ سړي پکښې چا نۀ کاته انسان ته
بېګا په خوب کښې تلے وومه ښار ناپرسان ته

دا دلته چې مېلمه وي هلته داسې عدالت ؤ
دَ هر یو غرضي سره په لاس کښې حکومت ؤ
کلعدم حقیقت ؤ دَ دروغو سلطنت ؤ
قران به په بدل کښې شو خوړلے شهادت ؤ
رشوت پکښې بېخي حلال ګڼلے شو رحمت ؤ
موقع پکښې دَ هر لوټ او تالان سوچه نعمت ؤ

رشتې او تعلق او غم ښادي وې سود او زيان ته
بېګاه په خوب کښې تلے وومه ښارِ نا پرسان ته"[xiii]

دَدې نه پس دَ امير رزاق امير په دوېم کتاب "څړيکه" کښې چې دَ "ښار ناپرسان" کومه حصه چاپ ده دَ هغې اولنے بند داسې دے:

"ما وې که زۀ په ويخه يم راغلے پاکستان ته
بېګا په خوب کښې تلے وومه ښار ناپرسان ته

روره دَ حاکم چې به کوم لوري ته دوره وه
ځان ته به ئې خرلې دَ پښتو لاندې خزانه وه
اخوا به روړونه پرقبېدل سمه شيشه وه
خلقو به ورکړي کانړو بوټو له چونه وه
چا سره دَ پوزې دَ بائيللو خطره وه
څوک به پکښې خلې ته کېده لکه چمچه وه

چا لکه دَ چتي پښې نيولې وې اسمان ته
بېګا په خوب کښې تلے وومه ښار ناپرسان ته"[xiv]

دغسې دَ امير رزاق امير دَ شاعرۍ په ناچاپو اثارو کښې دَ "ښارناپرسان" نظم نه يو بند وړاندې کولې شي وائي چې:

"باچا به دَ نيستۍ دَ لاسه اندې خرخولې
اندو له بې شماره چرګې هر چا وې ساتلې
چاپېره دَ اګو مينه به زار ؤ لړېدلې
اندې دومره ډيري شولې چانه اخستلې
چا غټې چا وړې چا دوه بنديزې اچولې
په هغه ورځ دَ اندو خود کفيل هر چا منلې

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.1 2024

چې خلق په جلوس کښې تلل دَ سخا اګو باران ته
بېګا په خوب کښې تلے وومه ښار ناپرسان ته"[xv]

امیر رزاق امیر نور هم ډېر انتقادي شعرونه وئیلي دي خو دا نظم ئې ډېر څه په حقیقت مبني دے چې دَ فکر په حواله ډېر څه لري. بلځوا دَ امیر رزاق امیر دَ شاعرۍ دَ هر یو کتاب نه دَدې نظم نه څه حصه رانقل کولو نه هم دا معلومه شوه چې یقیناً دا ډېر اوږد نظم دے او دَ طنز و مزاح په فن پوره هم دے

دَدې نه علاوه دَ امیر رزاق امیر بل نظم "ډاکټران" هم دَ طنز و مزاح یو ښائسته نمونه ده. دې نظم کښې امیر رزاق امیر زمونږ دَ معاشرې دَ ډاکټرانو نه سر ټکولے او زمونږ دَ معاشرې دَ ډاکټرانو دَ بې احساسۍ تصویر ئې په طنز و مزاح کښې وړاندې کړے او په دې نظم کښې هغۀ دا ارمان کړے دے چې خدایه ما ډاکټر کړے او ناروغه ډاکټران کړے. دَ نمونې په توګه دَدې نظم نه څه حصه دلته وړاندې کولې شي.

"لږ مې په ناروغه صورت دا پوره ارمان کړې
خدایه ما ډاکټر کړې او ناروغه ډاکټران کړې

دوي وې په سکیندو دَ هسپتال په برنډه کښې
ما خلق کتلې په فیسونو په بنګله کښې

دوي ړانده کاڼۀ وے او خوک ګېر وے په نزله کښې
ما ورته یو شان دارو لیکلے په نسخه کښې
سم دَ بجلۍ پړق وے چې راتللے په غصه کښې
بیا لکه لوږ شیډنګ ورکېدے یوه لحظه کښې
دوي دَ هسپتال نه مړي وړلے په ربړه کښې
ما دَ ایمبولینس خرچه لیکلے په کهاته کښې

مــــا ئـــــي ځلــــونتري او دوي هـــــم داســـــي حيـــــوان كـــــړي
خدايـــــه مـــــا ډاكتــــر كـــــړي او ناروغـــــه ډاكتـــــران كـــــړي" xvi

دَ امير رزاق امير دَ طنز و مزاح نه ډک بل يو شاهكار نظم چي "يه زما وړي وړي تنخوا چاله دي وركړمه" دے۔ په دي نظم كښي هغهٔ دَيو تنخوادار دَ زړهٔ اواز بيان كړے دے۔ هغه په دي نظم كښي دَ يو كمزوري تنخوادار دَ زړهٔ اواز بيان كړے دے۔ هغهٔ په دي نظم كښي وائي چي تنخوا لږه وي او دَ ژوند ضرورتونه ډېر وي نو كوم كوم ځيز ته خپله تنخوا ورسوم۔ هغهٔ وائي چي دَ ژوند دومره ډېر ضرورتونه په دي لږو پېسو څنګه سر كړم۔ په دي نظم كښي دَ خپل ملک دَ ګرانۍ خبره هم كوي او ورسره دَ ژوند دَ ضرورتونو خبره هم كوي او دا هر څه په حقيقت كښي دَ هر كمزوري تنخوا دار سره كېږي۔ هغهٔ نظم څه داسي دے چي:

"شـــــپږ ســـــــوه روپــــــۍ دَ كريـــــاني دَ دوكانـــــــدار كـــــه
دري ســــــوره دَ كــــــور دَ كرايـــــــۍ ورپســـــي شــــمار كــــه
وليكــــــه ځلــــــور ســــــوه ډاكتـــــر پســــــي قطـــــار كــــه
داســــــي دوه نـــــيم دري ســــــوره پښـــــتنه دَ بيمـــــار كــــه
داســـــي پســـــي دومـــــره دَ ميلـــــي نـــــه را امبـــــار كــــه
دا هــــــر څـــــه چــــي وليكــــــي ټوټـــــل دَدي تيـــــار كــــه

نـــو كـــار دَ دومـــــره ډېــــرو پــــه دي لـــــږو څنګـــــه ســـــر كړمـــــه
نـــو! يـــــه زمـــــا وړي وړي تنخـــــوا چالـــــه دي وركړمـــــه

دلتـــــه اشـــــنايانو لــــــه ډالــــــۍ ټيـــــالۍ وړه غـــــواړي
ميخـــــه پكښـــــي ببلـــــه قربـــــانۍ لـــــه اخســـــته غـــــواړي

روره نـــو خـــوراک كـــول هـــم نـــن ســـبا چمچـــه غـــواړي
هـــر موســـم چــــي راشــــي ځانلــــه يــــو جامــــه غـــواړي

حرف و سخن
HARF-O-SUKHAN
Urdu Research Journal of PAKISTAN
ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.1 2024

اوړي له ململ ژمي له ګرم اغوسته غواړي
داسې ماشومان چې مدرسې له ځي بسته غواړي
کوم چې روانېږي دَ روپۍ نه کمه نۀ غواړي

یو چې رضا کوم نهه دَ ځانه مرور کمه
نو! یه زما وړې وړې تنخوا چاله دې ورکړمه

دلته تنخوا پورته شي په لسو کښې یوه روپۍ
هلته وړۀ راپورته شي په دؤو پسې دوه روپۍ
نن ده جوړه شوې پرونۍ یوه انه روپۍ
داسې به سبا له وي یو پېسه روپۍ
داسې مسلسل که راکوزېږي روزانه روپۍ
بیا به دا بلا روپۍ بللې شي په نۀ روپۍ

څه که هسې پنډ دَ پانو ځانته راپسر کړمه
نو! یه زما وړې وړې تنخوا چاله دې ورکړمه

هره سوله پنډه مې دَ پیلې نه چاپېره وي
چوده چې رارسي تنخوا یاره باره تېره وي
جیب کښې مې کرړي دَ بیس نه اپله بې شمېره وي
نغدي قرض غواړو خله مو هر چاته برښېره وي
شته په کور کښې ختم وي دَ نشت خبره ډېره وي
ځان سره ګورېږمه ټول کړۀ وړۀ مې بې خېره وي

نو کور کښې دَ غصې نه لرګي لوښي کڼ کفر کړمه

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.1 2024

نـــــو! يـــــه زمـــــا وړې وړې تنخــــــوا چالــــــه دې ورکړمـــــــه" xvi i

دغسې که مونږ دَ امير رزاق امير دَ طنز و مزاح په حواله دَ هغوي "کوډې تعويذونه" نظم ته اوګورو چې امير رزاق امير پکښې دَ پښتنو په رسمونو ، رواجونو او وهمونو باندې طنز کړے دے. په دوي پورې ئې پخپله هم خندلي دي او نور خلق ئې هم دَ ځان سره خندولي دي. لکه چې وائي:

"دلتـــــه پــــــه اينګـــــور بانــــــدې خوابنــــــې تعويزونــــــه کـــــوي
پــــــه هغـــــه پـــــورې چـــــم کښــــــې ســــــخر لګـــــي او زوم تــــــړي
بلــــــه مــــــې دا قيصــــــه دَ هغـــــه پـــــاپو نــــــۀ هېربــــــږي
دَ شــــــپې ســــــپوږمۍ پــــــه خــــــانکي کښــــــې پــــــه نجــــــوم تــــــړي
چــــــې شــــــپه خــــــوږه شــــــي خــــــوب خــــــوږې خــــــوږې نشــــــې ورکـــــوي
نو دَ کګې مور کوګ له په خله کښې پراتې ورکوي" xvi i i

امير رزاق امير په دې نظم کښې په مزاحيه انداز کښې ډېر لوے حقيقت بيان کړے دے او ډېر لوے پېغام پکښې پروت دے. خو ټول نظم دلته رانقل کول دا تحقيق دَ طوالت سره مخ کول دي.

داسې که دَ امير رزاق امير دَ شاعرۍ دَ طنز و مزاح په اړه وضاحت کېږي نو خبره بيا ډېره اوږدېږي خو دومره ده چې دَ هغوي دَ طنز و مزاح دَ څو نظمونو په نومونو به اکتفاو وشي چې په هغې کښې - "ازادي، کګه پاپو او شبر خط" نومې نظمونه ډېر په زړۀ پورې او دَ ذکر وړ دي.

حوالې

---

[i] *Enyclopedia Britannica, LTTD. Chicago, Loundon, Toranto Vol 20, P5*

[ii] جان، حکيم الله، په پښتو ادب کښې طنز و مزاح تنقيدي جائزه، دَ پي ايچ ډي تحقيقي مقاله، ناچاپ، مخ ١١

[iii] *Enyclopedia Britannica, LTTD. Chicago, Loundon, Toranto Vol ii, P86*

[iv] يوسفزے، مشتاق مجروح، زرکاڼے، يونيورسټي بک ايجنسي خېبر بازار پېښور، اشاعت درېم، نومبر ٢٠١٠، مخ ٢١٢

[v] خټک، فضل مير، فضليات، حياب بک ډپو کرک، اول اشاعت، ١٩٩٩ء، مخ ٢٨١

[vi] همدغه اثر، مخ ٣٨٣

[vii] *https://jang.com.pk)news)68.....*

[viii] خاموش، تاج محمد ، امیر رزاق امیر یو نابغه تخلیق کار، میاشتنۍ لیکوال، پېښور، اګست ۲۰۱۲ء، مخ۵۷حقوا

[ix] همدغه اثر، همدغه مخ

[x] امیر، امیر رزاق، دَ خیالونه تصویرونه، از رحمت شاه سائیل، مخونه ر-س

[xi] *VoA, tribute to late Pashto Poet Amit Razaq Amir*

[xii] امیر، امیر رزاق، دَ شناخت ور، ادبي تخليق او ساختيات، دوېم جلد ، منګل کتابکور محله جنګي پېښور، ستمبر ۲۰۲۲ء، مخ ۸

[xiii] امیر، امیر رزاق، دَ خیالونو تصویرونه،مخونه ۲۸-۲۹

[xiv] امیر، امیررزاق، څرېکه، مخ ۱۸۵

[xv] امیر، امیر رزاق، کریکه، ناچاپه

[xvi] امیر، امیر رزاق، دَ خیالونه تصویرونه، مخ ۶۰

[xvii] امیر، امیر رزاق، کریکه، ناچاپه

[xviii] امیر، امیر رزاق، دَ خیالونو تصویرونه،مخ ۹۲